# پخپل هیواد کې، بې خپل کوره

د«کډوال په ښارونو کې» د پروژې موضوعي ریپورټ

جلال اباد - ننګرهار ولایت، افغانستان:

ولي محمد کنډیوال



Tufts UNIVERSITY
FRIEDMAN SCHOOL OF NUTRITION SCIENCE AND POLICY
Feinstein International Center


سپیتمبر ۲۰۱۸

# محتویات


**پخپل هیواد کې، بې خپل کوره** ........ 1
د«کډوال په ښارونو کې» د پروژې موضوعي ریپورټ ........ 1
جلال اباد - ننګرهار ولایت، افغانستان: ........ 1
موقیعت ........ 3
پیژندنه ........ 4
**خمکه : د ادغام د ستراتیژۍ یوه مرکزي ستن** ........ 4
د ځمکې د تخصیص او توزیع سکیم ........ 7
پایله ........ 11
References ........ 13
ضمیمه ب: د ښار پس منظر: ننګرهار ولایت ته بېرته راستانه شوي ........ 16
دRIT پروژې په اړه ........ 19
د لیکوال په اړه ........ 20

# موقیعت




د دې موضوعي ريپورټ د ښار او هيواد په اړه د نورو معلوماتو لپاره د شاليد په اړه ضميمې ته مراجعه وکړئ.

# پيژندنه

په دې تحقیقي رپیورټ کې هغه ننګوني راسپړل شوي چې د افغانستان ننګرهار ولایت، په ځانګړي توګه جلال اباد ښار او ګاونډيو ولسوالیو ته له پاکستان راستانه شوي کډوال ورسره لاس او ګریوان دي.

دا رپیورټ، پخپل هېواد کې، دبېرته راستنوو شوو کډوالو د ادغام تجربې تشریح کوي خو تمرکز يې زمکې ته د هغوئ په لاس رسي دي. د زمکې مالکیت د افغان حکومت د ادغام د رسمي ستراتیژۍ اصلي رکن دی . د ځمکې د تخصیص او توزیع پلان (LAS) د ولسمشر د ۱۰۴ ګڼه فرمان او د هغې تغیر شوي بڼه[1](۳۰۵ ګڼه فرمان) د زمکې د غوښتنلیکونو پروسه، د تر لاسه کوونکو انتخابول او د نورو له منځه د تر ټولو مستحق او مجبور بې ځمکې کس ته لومړیتوب ورکول تشریح کوي. په ننګرهار کې، پرته له خپلې ځمکې یا کور درلودلو، دا نږدې نا ممکنه ده چې د همسایه سره په برابره کچه ټولنیز موقف ولرئ ، کار پیدا کړئ او یا دې په ټولنه کې د برابر احترام وړ واوسئ.

دا رپیورټ راستنوو شوو کډوالو ته موقع ورکوي چې دوی له خپله انده / لید د ځمکې لرلو اهمیت تشریح کړي . د رپیورټ لیکوال له اره د ننګرهار ولایت دی . دا رپیورټ د لیکوال د خپلو تجربو سر بیره په یاد ولایت کې له اکتوبر ۲۰۱۷ تر جنوري ۲۰۱۸ تر سره شوي ساحوی تحقیق په بنیاد لیکل شوي دی.
رپیورټ موندلي ده چې بې ځمکې کډوالو ته د افغان حکومت ځواب د هغوی ستونزه په مناسب ډول نه ده حل کړي نو ځکه هم د راستنو شوو بې ځمکې کډوالو شمیر او هم هغه ننګوني چې دوی ورسره د ادغام په برخه کې مخامخ دی، مخ په زیاتو دي.

د زمکې د ویش موضوع به د افغان حکومت لپاره همداسې یوه مخ په زیاتیدونکی ستونزه وي او دا به په راتلونکی کلونو کې د راستنو شوو کډوالو ادغام باندې څرګنده بده اغیزه ولري . هغه څه چې په اوس وخت کې کیدلی شي چې د تر ټولو د بد حالت د رامنځته کیدلو مخنیوی وکړي، هغه دا دي چې؛ د ۱۰۴ ګڼه فرمان تغیر شوي بڼه دا اطمیناني کړي چې ټول فوکس په دې را څرخي چې یواځې او یواځې بی زمکې اشخاص مشخص کیږي او ورته ځواب ویل کیږي . همدا رنګه د دې لپاره چې د کډوالو را کشونکی فکټورحمایه شي او کډوال تشویق کړی چې خپل هېواد ته را ستانه شي، د یوې هیله ورکونکی وسیلې په ډول د خمکی د هر رنګه نا سم استعمال او توزیع مخه باید ونیول شي.

## خمکه : د ادغام د ستراتیژۍ یوه مرکزې ستن

**د راستنوشوو کډوالو لپاره، د ځمکې مالکیت، د اغیزناک ادغام لپاره مرکزې ستن ده . راستنوو شوو کډوالو ته د ځمکې برابرول د ادغام لپاره د افغان حکومت د رسمي ستراتیژۍ یو تر ټولو مهم اړخ دي.**

**د افغانستان د مرکز- کابل را وروسته، تر ټول ډیر راستانه شوي کډوال ننګرهار ولایت ته راغلي دي. له ۲۰۰۲ را وروسته، د بې ځمکې راستنوو شوو کډوالو د ځمکې د تر لاسه کولو تر ټولو ډیر شمیر غوښتنلیکونه هم په همدې ولایت په ځنډیدلي حالت کې پاتي دي. د اولسمشر هغه فرمان چې په بنیاد يې د ځمکې د تخصیص او توزیع سکیم رامنځته شوي وو، او د بیا کتنې لاندې دی نو دا یوه مناسب وخت دی چې د ستراتیژۍ د ملاتړ لپاره شواهد وړاندې شي.**

**په افغانستان کې، د ادغام په اړه** *UNHCR* **د** *"Handbook for Repatriation and Reintegration Activities" (2004)* **یواځنې لارښود کتاب دي. (مجیدی ۲۰۱۴). دا کتاب ادغام د یوې پروسې په توګه راپیژني، د کومې په وسیله چې خدماتو، تولیدې سرچینو او نور مواقع ته د راستنوو شوو کډوالو او کوربه ټولنو تر منځ په لاس رسي کې توپیرونه له منځه ځي.**

**د دې لپاره چې دغه هدف تر لاسه شي، د بشری مرستو او پرمختیایی ادارو تر منځ پوره همغږي اړینه ده. علی (۲۰۰۴ ص ۵۲) د ادغام درې کټګوریو وړاندیز کوي : « ۱)اقتصادی ادغام، ۲) د کورنو جوړل او بی ځمکې توب او ۳) ټولنیز ادغام.» د ادغام لپاره د افغان حکومت اوسنۍ ستراتیژي هم همدا درې ساحې په نښه کړي دی. (د کډوالو او راستنیدونکو چارو وزارت (۲۰۱۶)**

[1]بیا کتل شوي فرمان د دې رپیورټ د لیکلو په وخت کې نهایی شوی نه و، مګر دا ویل شوی وو چې په شریک شوې ورژن کې ممکن ډیر لوی تغیر را نه شي. په نافذه فرمان دا نیوکه وه چې د غوښتنلیکونو پروسه کې يې شفافیت نه و، فساد پکې و، او د تر ټولو مجبور بې ځمکه راستنیدونکي کډوال يې نه شوو په نښه کولی.

# په ښار کې د لیکوال موقف او د دې موضوع د څېړنې تجربه

زه له اره ننګرهاری یم او په یاد ولایت کې یو ښه پراخه او ژور ټولنیز نیټورک لرم چې په مټ یې ما دا وړتیا موندلې چې مرکوونکو ، حکومتي او نړیوالو اسنادو ته لاس رسي پیدا کړم.
زه له تیرو څوکلونو راهیسې په کډوالی، داخلي بې ځایه کیدنې، او راستنیدنه باندې څېړنې کوم او خپله هم د کډوالی او بېرته راستنیدنې تجربه لرم چې د دې ریپورټ په لیکلو کې مې ترې ګټه اخستې ده. همدرانګه دا ریپورټ د هغو کیفیتی معلومات په بنسټ لیکل شوي چې په ننګرهار کې د مرکو او خبرواترو له لارې راټول شوي دي. یادې مرکې، لیکوال په ننګرهار ولایت کې له راستنو شویو کډوالو، اړوند حکومتي چارواکو، د UN له ادارو ،غیر دولتي موسیسو له کارکوونکو، د مدنی ټولنې استازو او ژورنالیستانو سره تر سره کړې دي . همدارنګه ، تر ساحوي معلوماتو راټولونې وړاندې، په افغانستان کې د راستنو شوو کډوالو په اړه شته لیکنې (مقالو، ریپورټونو او ...) ته کتنه شوې ده.
دا څېړنه له څو ننګونو سره مخ وه:

لومړی، حکومتي چارواکې له افغان څېړونکو سره ډیره علاقه نه ښایی او نه ورته عمومی اسنادو ته لاس رسی اسانه کوي سره د دې چې دا چارواکی د هېواد د نافذه قوانیونو له مخې صلاحیت لري چې له مطبوعاتو او څېړونکو سره معلومات شریک کړی پرته له هغو معلوماتو او اسنادو چې محرم او شریکول یې منع اعلان شوی وي

همدارنګه، د ادغام په اړه له راستونو شویو کډوالو سره د خبرو او مرکو په وخت کې زه له ستونزو سره مخ وم ځکه چې :
۱) ځینو ځوابویونکو د مرستې تمه کوله او د ډیرو پوښتنو له ځوابولو سترې بریښیدل ۲) خلک له څېړنو سره اشنا نه دي نو ځکه پوښتنو ته د شک په سترګه ګوري. په افغانستان کې په یو بل د باور اړتیا بیخې ډیره ده. زه وتوانیدم چې د خپل شخصي نیټورک په کارولو باور رامنځته کړم او یو مرکه کوونکی مې په ساحه کې له بل سره معرفی کړي.
د ولایت په اړه د معلوماتو د کموالی په ګډون ځینې نورې ستونزی هم وي. د شته معلوماتو، ریپورټونو او څېړنو د لوستلو او کتنې په وخت کې مې وموندله چې په یاد ولایت کې د راستنو شوو کډوالو په اړه تر هغې ډیر لږ معلومات شته دی چې ما یې په شروع کې اټکل کړي و . بله ننګونه د ښځو مرکه کونکوو پیدا کول و. د سمېیز کلتور له امله، ښځې / جینکۍ اکثره وخت له سړو سره له خبرو کولو ډه ډه کوي. تر زیات کوښښ وروسته ، څلورمه برخه د مرکوونکو، چې ما ورسره د دې ریپورټ لپاره خبرې کړي دي، ښځی دي. دا یوه اډیال شمیره نه ده مګر د ښځو غږ په دې ریپورټ کې شته دی او په معلوماتو کې د جنډر / جنسیت موضوع په پام کې نیول شوي ده.

د وروستۍ ننګونې په توګه ، دا ګرانه وه چې داسې یو ځای پیدا کړم چې د دفتر په توګه یې استعمال کړم ځکه چې د دې لپاره پروژې کوم بودیجه نه درلوده. همدارنګه ډیرو ضروري وسایلو (لکه ریکارډر او د عکاسی کیمره چې یو څېړونکی یې باید ولري) ته مې پوره لاس رسی نه درلود او دا وسایل مې په موقت ډول له دوستانو اخستي وو.

# د راستنوو شوو کډوالو د ادغام تجربې

راستانه شوي افغان کډوال، د «ادغام» اصطلاح هغسې نه کاروي څرنګه چې د نړیوالې ټولنې لخوا وړاندې شوي ده او ډېر کله خو دوی د دې اصطلاح په پښتو او درې ژباړه هم نه پوهیږي. په هر صورت، دوی توانیږي چې په ډېر واضح ډول دا تشریح کړي چې بې ځمکېتوب څرنګه دوی په ټولنیز او اقتصادي ډول اغیزمن کوي. همدارنګه، دغه راستانه شوي کډوال په کوربه ټولنه کې د دوی د ښه میشت کیدلو او یو ځآی کیدلو په اړه ځمکې ته د لاس رسي او د خپل کور شتون اهمیت ډیر ښه تشریح کولی شي. یو ۵۵ کلن سړی – چې له اره د ننګرهار ولایت د پچیر اګام اولسوالۍ دی ، له پاکستانه په ۲۰۱۶ ز کال کې راستون شوی او یو کور یې ،چې درې کوټې لري، د جلال اباد ښار د کانال په سیمه[2] کې په کرایه نیولی. د میاشتي ۴۵۰۰ افغانۍ کرایه ورکوي. کانال سیمه د جلال اباد هوایی میدان ته نږدې د ښار جنوب ختیځ لورې ته موقیعت لري.

یاده سیمه په ۱۹۷۰مو کلونو کې یوازې د زراعت لپاره مشخص شوي او توضیح شوي وه مګر د نفوس د زیاتوالی او د زیات شمیر راستنو شوو کډوالو له امله اوس دغه سیمه د استوګنې کورنو لپاره استعمالیږي. که چیری دغه سړي غوښتلي وای چې د جلال اباد ښار په حدودو کې دننه په یوه غیر پلاني ساحه ووسي چې پخوا د زراعت لپاره کاریدلې او په غیررسمي ډول ابادې شوي دي، هغه اړ و چې په تخمینی ډول د دغو پیسو چې اوس یې په کانال سیمه کې ورکوي، نږدې دوه برابره کرایه ورکړی وی. همدارنګه، په زیاترو نسبتا ښو سیمو کې د ځمکې / کور مالکان د شپږو میاشتو او یا یو کال کرایه کورته تر ورتللو وړاندې غواړي چې اکثره کرایه کښ یې توان نه لري؛ په ځانګړي ډول هغه غریبې کورنۍ چې ټوله تکیه یې په ورځ مزدورۍ ده. همدارنګه د کرایه کښ ډیر وخت په دې ضایع کیږي چې یو مناسب او د خپل توان او اړتیا مطابق کرایه کور پیدا کړي، له یوه ځایه بل ځای ته کډه یوسې . بیا، کله چې یو ځوک یو مناسب کور پیدا کړي، بیا اړتیا لري تر څو له یوې بلې ستړې کوونکې پروسې تېر شي چې عامه خدماتو ته لاس رسی پیدا کړي، د بیلګې په ډول د ماشومانو د ښوونځي د اسنادو د تبدیلۍ مراحل چې شاید څو ورځې وخت ونسي دا غوښتنې په راستنوشوو کډوالو بوج کیږي او په مالی لحاظ دوی کمزوري کوي ځکه هغه وخت چې دوی د مزدورۍ او یا د کورنۍ د غړو د لیدلو لپاره لري په دې کې مصرف کیږي.

د کورونو کرایه د ځمکې د قیمت د ډراماتیک لوړوالي ، چې په ۲۰۰۲ ز کال کې شروع شو، سره همماله پورته لاړه چې په همدغه کال د لوی شمیر افغان کډوالو راستنیدل هم شروع شوه. د زورواکو او د هغوی د ملاتړو لخوا د ځمکې غصب دوی ته دا وړتیا ورکړله چې په لږ وخت کې او په ډیر ه کمه سرمایه ګزارۍ ښې پریمانه روپۍ وګټي. پایله دا شوه چې د افرادو یو وړوکي اکثریت څو کورنه پیدا کړل مګر ډیرې کورنۍ حتی د اوسیدلو لپاره یوه کوټه هم نه لري او له همدې امله زیاتره راستانه شوي کډوال په غیر رسمي دولتي ساحو کې پرته له کوم اسنادو لرلو اوسیږي او دوی بیا له دغو ځایونو په زوره ایستلو  ته اړ شي. راستانه شوی کډوال وایي چې هغه کورنۍ چې په کرایی کور کې اوسیږي داسې نه ښکاری لکه د دې ټولنۍ غړي ځکه چې دا ښکاره ده چې دې هر وخت دا ځای پریښودلی شي نو ځکه دوی اوږمهالي ګاونډیان نه ګڼل کیږي . د دې معنی دا هم ده چې دوی ته په ښه او بده کې ډیرتود هرکلی او ښه راغلاست نه ویل کیږي او نه ورته په ټولنه کې د تصمیم نیونې په وخت کې ارزښت ورکول کیږي.

په ښه (د خوشحالۍ موقع) و بده (د خفګان موقع) کې خلک خپل خپلوان او ګاونډیان راغواړي چې برخه پکې واخلي. د نږدی خپلوانو کار دا وي چې نورو میلمنو ته ښه راغلاست ووایی ، چای او ډوډۍ ورته کیږدي مګر ګاونډیان اکثره وخت خپل کورنه هم خپلو ګاونډی ته د یوې یا دوه ورځو لپاره او یا د پیښې تر پای ته رسیدو پورې په واک کې ورکوي. اکثره وخت د د کرایه کور واله د کور د مالک د خفګان او یا د کور د خرابیدو له ویرې زړه نه ښه کوي چې خپل کور خالي او ګاونډې ته یې په واک کې ورکړي نو ځکه ډیر وخت په ټولنه کې کرایه کښ له دغه ټولنیز رول اخستلو ویستل شوي وي. سړي دي که ښځې، خو چې په کرایه کور کې اوسیږي؛ په سمییزو شورا ګانو کې له تصمیم نیونې ویستل شوي دي. د بیلګې په ډول ، سی ډی سي چې د ښځو او سړو لپاره بیلابیلی شورا ګانې لري او د پرمختیایی پروژو په اړه د تصمیم نیولو ، ډیزاین کولو او عملي کولو اصلي مرجع ده. اکثره وخت تصمیم د کور مالک نیسي که له خپل کوره لرې هم اوسیږي. د کرایه کښ په ځای د کور له مالک غوښتنه کیږي چې د سی ډی سی په تصمیم نیولو کې ګډون وکړي. په پای کې ، ځمکه په نوې خپلوۍ کولو کې خورا مهم رول لري: لومړۍ یا دویمه پوښتنه د جینې د غوښتلو په وخت کې دا وي چې هلک یا د هلک ګډه کورنۍ جایداد(ځمکه/ کور)لری که یه. د همدې لپاره، په ننګرهار کې د خلکو د یو بل سره د نښلولو لپاره ځمکه تر ټولو مهم شی دی او د ځمکې لرل او مالکیت یو څوک د دې جوګه کوي چې په ټولنیز ژوند کې ګډون وکړي.  په هر

[2]نقشې ته رامجع وکړئ

رنګه ټولنیزو اړیکو کې ځمکه یو بنیادي رول لری . که چیری د ادغام هدف د را ستنو شوو او کوربنو ترمنځ د نابرابرۍ له منځه وړل وي نو ددې هدف تر لاسه کول تر هغه شوني نه دي تر څو چې خلک خپل کور او ځمکه ونه لري.

د افغان حکومت او راستانه شوي کډوال ځمکي ته د لاس رسي په اړه بیلا بیل درک لري (مجیدی۲۰۱۱). ځمکي ته د لاس رسي په اړه د افغان حکومت درک دا دی چې یوه نمره د کور ځمکه وي چې یوه کورنی پکي کور جوړ کړي؛ مګر را ستانه شوی کډوال ځمکي ته د داسي وسیلي په توګه ګوری چې نه یواځې کور پکې جوړ کړی بلکې د کاروبار ځایونو او نورو خدماتو ته د رسیدو لپاره یو بنیاد وي.

د یوه حکومتی چارواکی په قول « راستانه شوي کډوال یواځې د ځمکي غوښتنه نه کوی بلکې غواړی چې په ښار کې یې تر لاسه کړي چې دا ممکنه نه ده ځکه حکومت خپل پلانونه لري او په ښارکي د ډیرو نورو پروګرامونو لپاره ځمکي ته اړتیا لری.»
نور د نظر خاوندانو بیا داسي توزیح ورکوي چې د ځمکي د تخصیص او توزیع په اړه افغان حکومت یوه اوږدمهاله پالیسي تعقیبوي او کوښښ کوي چي له ښار د باندې ښار په څنډو کې، ښارګوټي جوړ کړي .
دا ستراتیژی په جلال اباد کې د لږ شمیر نفوس په بنسټ وه چې په ۱۹۷۰مه لسیزه کې د۵۰۰۰۰ نفوسو لپاره دوباره ډیزاین شوه مګر نن ورځ دا ښار د یو میلیون په شاوخوا کې نفوس لري. دا ښار یوې باثباته تګلارې ته اړتیا لري چې د نفوسو نور زیاتوالی پکي په نظر کې ونیول شي.

# د ځمکې د تخصیص او توزیع سکیم

د اداغام په پروسه کې د ځمکي مالکیت ته د ورکړل شوي مرکزیت په نظر کې نیولو سره، دا خورا مهمه ده چې افغان حکومت او د دوی نړیوالو ملاتړو لخوا په هغو هڅو پوهه شو چې د راستنو شوو بې ځمکي کډوالو ته یې د ځمکي ورکړې لپاره کړي دي. تر ټولو څرګنده هغه یې د ځمکې د تخصیص او توزیع سکیم دی چې په ۲۰۰۵ ز کال کې د اولسمشر د ۱۰۴ ګڼه فرمان له مخې رامنځته شو. د دې سکیم مقصد دا و چې راستنوشوو بې ځمکي کډوالو او دا خلی بې ځایه شوو ته د کورنو لپاره مناسبه ځمکه ورکړي. په هر صورت، بیلابیلي مطالعو، د ځمکي د تر لاسه کونکو د انتخاب په پروسه کې د شفافیت د نه شتون او د فسادشتون په شمول ، په دې سکیم پورې اړوند نورې ګڼي ستونزې په ښه کړې دي. (میک ډونلډو۲۰۱۰، مجیدې ۲۰۱۱، ویلی ۲۰۱۳). راتلونکي څپرکي د ځمکي په یاد سکیم پورې اړوند هغو ستونزو باندې فوکس کوي چې د راستنوو شوو کډوالو لخوا شریکي شوي دي.

## د یوه سړي په صلاحیت ولاړه پروسه

د ځمکي د تخصیص او توزیع سکیم له مخې، د ځمکي د تر لاسه کولو لپاره د غوښتنلیک پروسیس په دوه برخو ویشل شوي دي: لومړی، یو راستون شوی کډوال، یا داخلي بیځایه شوی باید ثابته کړی چې هغه ځمکه نه لری . دویم یو کمیسون چې له ۹ ادارو تشکیل شوی، دا غوښتنلیک ګوري او تصدیقوي چي لومړی مرحله پرته له کوم جعل او د ۱۰۴ ګڼه فرمان له شرایطو سره سمه بشپړه شوي ده. همدارنګه یاد کمیسون مسولیت لري چې تر ټول ډیر مستحق کس انتخاب کړي.

د راستنوشوو کډوالو له نظره ،د ځمکي د نه شتون ادعا د هغه فورم له یوې پوښتنې شروع کیږي چې راستنوشوو کډوالو ته یا د افغان حکومت او یا هم د غیر دولتي اداري لخوا په سر حد ورکول کیږي. د نورو ډیرو پوښتنو سربیره ، یاد فورم له راستانه شوي کډوال پوښتي چې ایا زمکه لری او که یه؟ ځیني ادارو ، د بیلګي په ډول یواین ایچ سی ار دغه پوښتنه له خپل فورم (پخپله خوښه د راستنیدلو فورم) ویستلی ده مګر نورې اداري د مهاجرینو او راستنیدنو چارو د وزارت په ګډون لا هم دغه پوښتنه کوي. یاده پوښتنه په حقیقت کې د ځمکي د تر لاسه کولو لپاره د غوښتنلیک د پروسې پیل نه دی. په هر صورت د راستنوشوو کډوالو تر منځ یوه توقع پیدا کوي او داسي نظر را منځته کوي چې ګواکی دوی د ځمکي د نه لرونکو په کټګورۍ کې دي مګر نور چې په افغانستان کې اوسیږي نه دي.

د دې لپاره چې د ځمکې د غوښتنلیک پروسه په حقیقي بڼه شروع شي، راستون شوي کډوال باید یو غوښتنلیک پخپل ولایت کې د کډوالو او راستنیدونکو چارو ریاست ته وسپاري. که چیرې هلته داسې دولتي ځمکه نه وي چې راستنو شوو ته توزیع شي ، دوی اړتیا لری چې خپل غوښتنلیک په یوه ګاونډي ولایت کې د مهاجرینو او راستنیدونکو چارو ریاست ته وسپاري.

په هر صورت په دغه ۱۰۴ ګڼه فرمان کې نوره توزیع نشته چې وښايي چې په کوم ګاونډی ولایت کې باید ځمکه ورکړل شي ځکه چې هر ولایت نور ډیر ګاونډی ولایتونه لري.

د دې لپاره چې یوه کورنی د ځمکې لپاره د غوښتنلیک د سپارلو مستحق شي، هغوئ باید د «د اعتبار وړ اسنادو[3]په بنسټ خپله را ستنیدنه ثابته کړي. او بیا دا ثابته کړي چې د غوښتنلک د سپارونکي، د هغه د میرمنې، او یا ماشوم په نوم کومه ځمکه نشته ده.

د ثبوت برابرولو تصمیم د یوه تن (ملک) له لورې نیول کیږي او ملک دا تصدیق کوي چې څوک پخپل کلي کې ځمکه لري او څوک نه.

ملکان د حکومت او د خپل کلي او اولس ترمنځ د اړیکو ټینګو لو رول لري (کنډویوال ۲۰۱۶) مګر هیڅ کوم مسولیت نه لري او قضاوت یې یواځې په اخلاقي حساب ولاړ وي. په حقیقت کې ملک زیاتره وخت هغه څه کوي چې د غوښتنلیک والا یې ترې غواړي ځکه چې یا خو دوی د خپلوئ نږدې اړیکی لری او یا رشوت ورکول کیږي.

د ولسوالی چارواکي ډیره کله کوم ثبوت نه لري چې د ملکانو تصمیم پرې وننګوي ځکه چې په اکثره موضوعاتو کې د غوښتنلیک ورکوونکي د ځمکې په اسناد د لیسزي اوښتي وي. همدارنګه اسناد یواځې د افرادو په نوم ورکول کیږي چې د ښځې او یا د ماشومانو نوم پکې نه ذکر کیږی چې دا د لا نور تصدیق موضوع را منځته کوي. همدارنګه، پرته له دې چې په حکومتي سیستم کې د ځمکې د مالکیت کوم ثبت پاتې شي، د ځمکې پېر او پلور په غیر رسمي ډول روان دي.

د ملک د واک جوړښت په نظر کې نیولو سره، یواځې هغه غوښتنلیک ورکونکي چې ډیر نفوذ لري په دې کامیابیږي چې د خپل بې ځمکې توب حالت ثابت کړي. د ډیر نفوذ لرونکی کس له نورو لومړی ځمکه تر لاسه کوي. له دې امله، څوک چې قانوني "بې ځمکه" وي، د اړتیا پربنسټ نه دي، لکه څنګه چې په ۱۰۴ ګڼه فرمان کې ویل شوي، بلکې دا په دې پورې اړه لري چې څوک له سیاسي پلوه په چا پورې تړلی او نفوذ لري.

د ملک تر تصیمیم وروسته ، یو کمیسون چې د نهو ادارو له استازو جوړ دی – زیاتره یې حکومتی اداري دي- غوښتنلیکونه ګوري چې د پروسې بشپړتیا یې تصدیق کړي او بیا غوښتنلیک ورکونکي ته لومړي توب ورکوي. په هر صورت ، دا مسولیت د کډوالو او راستنیدونکو چارو وزارت دی چې د بیا کتنې لپاره کمیسون ته غوښتنلیکونه انتخاب کړي.

اکثره وخت د کمیسو غړي د خپلوانو او ملګرو غوښتنلیکونه کمیسونه ته د بیا کتنې لپاره راوړي او کمیسون د خپل شخصي او د یا د کورنی د دلچسپی له مخې د هغې ملاتړ کوي.

د بیا کتنې؛ د غه پروسه په دې معنی ده چې که چېرې غوښتنلیک ورکونکی په کمیسون کې د ننه شخصي ملاتړ ونه لري ، د ځمکې لپاره د غوښتنلیک سپارل منطقي نه دي.

په واضح ډول، د شفافیت او د غوښتنلیک د بشپړتیا د بیاکتنې اړوند موضوعات او د لومړیتوب ورکولو پروسه داسې ښکاري چې دا د ۱۰۴ ګڼه فرمان له روح سره اړخ نه لګوي.

[3] منل شوي د اعتبار وړ اسناد عبارت دي له : د افغانستان تذکره، د UNHCR د خپلې خوښې د راستنیدنې فورم، راشن پاس، په سرحد باندې د IOM لخو ورکړل شوي کارډ، په پاکستان کې د ماشومانو د ښوونځې کارډ، د واکسین کارډ، ګیټ پاس چې په سرحد کې ورکول کیږي (د کډوالو او راستنیدونکو چارو ریاست، ننګرهار ۲۰۱۸)

# د ځمکې د تخصیص او توزیع د سکیم نافذ کول



په شروع کې، ۶۰ ښارګوټی پلان شوي وو چې په بیلابیلو ولایتونو کې به په غیر زراعتی دولتی ځمکه کې جوړیږي چې د راستنوشوو کډوالو او داخلي بې ځایه شوو د بیا ادغام د پروسې سره مرسته وکړي. که څه هم تر یوې لسیزې ډیر وخت کیږي چې د ځمکې د ورکړې دغه سکیم رامنځته شوی دی خو تر اوسه یوازې ۲۹ ښاروګوټې فعال شوي دي. په ننګرهار ولایت کې لومړنی ښارګوټی په ۲۰۰۶ ز کال په شیخ مصری کې شروع شو. یاد ښارګوټي د جلا اباد ښار سویل لویدیځ لوری ته موقعیت لري چې په رسمي ډول د سره رود ولسوالی اړوند ساحه ده. بې ځمکې راستنو شوو کډوالو ته په یاد ښار ګوټی کې ۱۴۰۰۰ د کورنو نومرې توزیع شوي دي.

په شیخ مصر ښارګوټی پسې بل هغه د چمتلې و . دغه ښارګوټی د جلال اباد ښار لویدیځ لوري ته د خوږیانو او سره رود ولسوالیو په منځ کې موقیعت لري. یاد ښارګوټي په ۵۵۰۰ جریبه کې پلان شوی وو خو ۲۰۰۰ جریبه ځمکه د هغو خلکو له لورې غصب شوه چې همدې ښارګوټي ته ورځېرمه اوستوګن دي. دغو خلکو حکومت پرینښوده چې دغه ځمکه راستنوو شوو کډوالو ته توزیع کړي بلکې خپله یې پخپل منځ کې سره وویشله.

# د ځمکې د تخصیص او توزیع سکیم په ننګرهار ولایت کې

# **د شیخ مصرې او چمتلې ښارګوټی**


**چمتلې ښارګوټی شیخ مصرې ښارګوټی**



د ځمکې د توزیع د یاد سکیم له لورې، حکومت په ننګرهار ولایت کې تر اوسه پورې ۲۲۰۰۰ د کورنو، نومرې (۱۴۰۰۰ په شیخ مصري کې او ۸۰۰۰ په چمتله کې) راستنو شوو کډوالو ته توزیع کړي دي. د دې معنی دا ده چې د ټولو غوښتنلیک ورکوونکو یوازې اومې برخې یې ځمکه تر لاسه کړي ده ، هغه هم تر لسونو کلونوپه ډیره موده کې.

د پورته ذکر شوې ځمکې توزیع د کډوالو او راسنیدونکو چارو د وزارت تر سرپرستی لاندې شوې او همدې وزرات د توزیع په پروسه کې تر ټولو ډیر مرکزي رول درلوده چې د پروسې د سوکه پرمختګ او د هدف د نه تر لاسه کولو اصلي لامل هم همدا و.

د کډوالو وزارت دا ظرفیت نه درلوده چې په دې کچه یو ملي پروګرام سنبال کړي او د یاد وزارت کارکوونکو د ځمکو اړوند موضوعاتو کې تجربه هم نه لرله. بله ستونزه دا ده چې دغه ښارګوټي په جعرفیاوي لحاظ له ښارونو لرې واقع دي او همدارنګه په یاد ښارګوټو کې لومړنی اسانتیاوي هم نه دي برابرې شوي (مجیدې او انګرید ۲۰۱۱).
د دغو ستونزو یوه ښه بیلګه د شیخ مصرې ښارګوټی دی چې لا هم د یاد ښارګوټي درېمه برخه خالي ده. یوازېنی پرمختګ یې دا دی چې د ځینو کورونو یوازې څلور دیوالونه جوړ شوي دي هغه هم د دې لپاره چې بل څوک یې ترې غصب نه کړي.




Map imagery © Google 2019

په دې برخه کې د کډوالو وزارت د
یو محدود پرمختګ بله بیلګه د
خانګې ښارګوټی دی چې د ننګرهار ولایت په بېسودو وولسوالۍ کې موقیعت لري. دغه ښارګوټی داسې پلان شوي چې په ۳۰۰۰ جریبه ځمکه کې به جوړ شي او د یوې نومرې مساحت ته په لیدلو له ۱۲۰۰۰ تر ۱۴۰۰۰ نومرې به ورکړي خو د نومرو مساحت لا مشخص شوي نه دې.

هغه څه چې په کاغذ لیکل شوي دا دي چې؛ د نومرې تر لاسه کوونکی به نه یواځې د کور جوړلو لپاره ځمکه تر لاسه کړي بلکې د یوه تکیمل شوي کور کونجی به ورکړل شي او په یاد ښارګوټي کې به لومړني خدمات هم محیا وي. دا ښايي هغو نیوکو ته ځواب وي چې د یاد سکیم له لورې په توزیع شوو ښارګوټو کې د لومړینو خدماتو د نه شتون له امله موجود و. دا وړاندوینه ګرانه ده چې کله به دغه کورونه توزیع شي ځکه چې وروسته له څلورو کلونو یواځنې پرمختګ دا شوی چې ځمکه په ګوته شوې ده او د جوړنې لپاره پلان جوړ شوی دی. همداشان، دا د پوښتنې وړ ده چې څومره به د افغان حکومت او د هغه د نړیوالو ملاتړو لپاره په مالي لحاظ دا ممکنه وي چې پوره جوړ شوي کورنه له لومړنیو خدماتو سره ، ټولو راستنو شوو کډوالو کورنیو ته برابر کړي. هغه حالت چې دلته توضیح شو –د یو لوی شمیر غوښتنلیکونو او د حکومت د بې اغیزې او بطې ځواب په ګډون - داسې ښکاري چې د ځمکې د توضیع سکیم یوه ژور بحث او تحلیل ته اړتیا لري.

## له تېر د زده شوو درسونو او نویو ننګونو شاملول

د ۲۰۱۷ ز کال په سیتمبر کې ، په کابل کې ، د ۱۰۴ ګنه فرمان د بیا کتنې لپاره یوه کمیسون جوړ شو چې د حکومتي ادارو (د اراضی او د کډوالو او راستنیدونکو چارو وزارت) سربیره نړیوالو ادارو (د UNHCR په ګډون) یې هم غړیتوب درلود.

د ۱۰۴ ګنه فرمان اصلاح شوې بڼه (۲۰۱۷,۰۹,۲۰) د دې لیکنې لپاره کتل شوې ده. د ځمکې د غوښتنلیک د پروسې او د ځمکې د تر لاسه کوونکې د انتخاب په اړه د فرمان یاده اصلاح شوې بڼه دوه بنیادي تغیرات ښايي.

لومړی، هغه معیارونه چې د یو راستون شوي کډوال کورنۍ یې له مخې د ځمکې تر لاسه کولو لپاره د غوښتنلیک ورکولو مستحق ګڼل کېده اسانه شوي دي. هره راستنه شوې کورنۍ – که ځمکه لري یا نه- کولی شي چې د ځمکې د تر لاسه کولو لپاره خپل غوښتنلیک وسپاري مګر د مستحق ګڼلو لومړني / اساسي معیارونه باید پوره کړي.

په دې معيارونو کې دا شامل دي چې غوښتونکي بايد يو له هغو اسنادو وړاندې کړي چې خپله جلاوطني او افغانستان ته بېرته راستنيدل ثابت کړي لکه د کډوالو وزارت د بېرته ستنيدلو سند، د UNHCR لخوا د داوطلبانه راستنيدو فورمه، دIOM کارت، يا د بشري مرستو ادارو څخه د مرستي تر لاسه کولو کارت چې "د راستنيدونکو معلوماتو مرکزونه ته ليږل شوي وي."

د راستنيدو معلوماتي مرکزونه داداري کار يوه برخه ده چې د ځمکي د تر لاسه کونکوو د انتخاب د ولايتي کنسرشيوم لخوا به په هغه ولايت کې رامنځته او اداره کيږي چيرته چې راستني شوې کورنى ځمکه تر لاسه کوي. (د 104 فرمان تعديل شوى نسخه، 2017).

که څه هم چې دا معيارونه ډير په برابرى ولاړ دي ، دا به د افغان حکومت اداري بار چې وار د مخه ډير زيات و، د پام وړ نور زيات کړي.

دوهم، راستنېدونکي کورنى اوس مهال دا انتخاب لري چې په هر هغه ولايت کې چې دوى يې وغواړي د ځمکي لپاره غوښتنليک وسپاري. دا په پراخه توګه د افغانستان د اساسي قانون د هغو مواردو ترجماني کوي چې وايي هر افغان ازاد دی چې په هېواد کې ځانته د ميشت کيدلو لپاره ځاى غوره کړي.
دا تغير هغه ټکر له منځه وړي چې د افغانستان د اساسي قانون- چې د ازاد تګ راتګ او ميشتيدني ملاتړ کوي- او د ۱۰۴ ګڼه فرمان د هغه ليد چې له مخې يې راستونو شوو کډوالو د مېشتدني د ځاى د انتخاب اجازه نه لرله، تر منځ موجود و.

په هرصورت، دا تغير کيدلى شي زيان رسوونکى وي ځکه چې د ننګرهار په ګډون نورې ښارې ساحې او مرکزونه چې د يو لوى شمير راستنو شوو کډوالو د کوربتوب له امله لا له وړاندې تر فشار لاندې دي، نور کډوال به هم همدې ساحو ته د راستنېدو لپاره تشويق شي.

دا پاليسى کيدلى شي ګټوره يا زيان اړونکې وي. له يو پلوه، اضافي راستنيدونکي کولى شي دهېواد په څلورو يا پنځه لويو ښارونو کې، په ځانګړې ډول په جلال آباد کې، نورې ښاري پرمختياوې رامينځته کړي او همدارنګه بېرته راستنيدونکو ته اجازه ورکړي چې ښاري سيمو ته د لوړ ظرفيت د خدماتو، کورجوړولو، دندې سره لاړ شى.

په هرصورت، بل اضافي بار کولى شي په دې سيمو کې عامه خدماتو، کور، او په بازارونو کې په کار باندې فشار راوړي.

د راستنيدونکو د شمېر ډيروالى ښايي په ښاري مرکزونو کې د ځمکي لپاره په غوښتنليک ورکولو کې سيالي رامنځته کړي او دا به د حيرانتيا خبره نه وي چې دا سيالى به خلک د نور فساد خواته رهبري کړي او د ځمکي د تخصيص او توزيع بهير کې به د ځواک څخه ناوړه استفاده لا زياته شي.

دا لا له وړاندې واقع کيږي؛ د بيلګې په توګه د ولايتي ادارې او د بيسودو اولسوالى خلکو ترمينځ يو تړون يا موافقه شوي چې د خانکې د ښارګوټي نومرې به يواځې هغه خلکو ته ځانګړي کيږي چې له اره د ننګرهار وي.

په پاى کې، ډيرى اشخاص ، چې ما ورسره خبرې کړي، په دې باور وو چې د 104 ګڼه فرمان بياکتنه د سياسي انګيرنو له مخې ترسره شوه، نه د بشري اهدافو لپاره.

په افغان حکومت د بهرنيو دولتونو لخوا فشار راوړل کيږي چې افغان کډوال بېرته افغانستان ته ستنيدلو ته وهڅوي - په ځانګړې توګه د پاکستان او ايران لخوا- ځکه چې دغه دولتونه کډوال د سيمه ايزو نا امنيو سرچينه ګڼي.

## پايله

اټکل کيږي چې له شپږ ميليونو څخه ډير افغانان له ۲۰۰۲ راهيسي بېرته راستانه شوي دي، که څه هم له ۴ ميليونو څخه زيات يې لا هم جلاوطني دي.

د راستنیدونکو لپاره د پام وړ ننګونه د ځمکي او مناسبو کورونو ته د لاس رسي نشتوالی دی او همدا د کوربه ټولنو سره د راستنوشوو د ټولنیزو او اقتصادي اړیکو بنسټ جوړوي.

په هرصورت، د ځمکي ما لکیت د تعقیب لپاره د ثبت کولو کوم سیستم شتون نلري، نه دهیواد ، نه د ولایت او نه د ښار په کچه . نو له دې امله دلته د معلوماتو دا خلا رامنځته شوي ده چي څومره سلنه راستانه شوي ادعا کوي چي دوی ځمکه نلري.

نو له همدې امله ټول اړونده شریکان د اټکل شوو ارقامو پر اساس کار کوي او همدا وجه ده چي د افغان حکومت او د راستنو شوو کډوالو تر منځ د نظریو توپیر موجود دی.

په ننګرهار کي راستانه شوي په دې باور دي چي ځمکه د باور، خدماتو ته د لاسرسي، معیشت، او ټولنیز ارزښت ترټولو مهمه سرچینه ده .

د ځمکي یا خپل کور پرته، یو څوک نه شي کولی چي د محل په اړه د پرېکړو په پروسه کي ونډه واخلي، همدارنګه د ټولني برخه نه ګڼل کیږي.

د ا اوسنی تګلاره، لکه د ځمکي د تخصیص او توزیع سکیم چي له شروع یعني ۲۰۰۵ کال راپدیخوا په غیر اغېزمن ډول کار کوي او د دې سکیم بې اغیزتوب، د ځمکي تر لاسه کونکوو د انتخاب په پروسه کي د شفافیت نشتوالی تر پراخو نیوکو لاندې دی.

دا چي د ځمکي د تخصیص او توزیع سکیم څنګه عملي کیږي، او غوښتونکي له دې څخه څنګه تجربې لري، د چاړواکو په منځ کي فساد او د دې حقیقتونو په اړه ناپوهي شتون لري.

په داسي حال کي چي افغان حکومت د ۱۰۴ ګڼه فرمان بیاکتنه تر سره کړې خو لا هم ننګوني په ځای پاتې دي او داسي احتمال شته چي دا ستونزې به په نږدې راتلونکي کي حل نه شي .

په قوی احتمال سره، دا ستونزې به لا پراخې شي ځکه چي له یوې خوا د غوښتونکو شمېر زیاتیږي او له بله پلوه په ښاري ساحو کي د کورونو جوړول مخ په زیاتېدو دي. هغه غریبي کورنی چي د کورنۍ کوم غړی یې په حکومت کي په کومه لوړه څوکی نه وي، هغه به په ځانګړي ډول له دې ستونزې سره مخ وي. دغه حالت بېرته راستنیدونکي مجبوروي چي ځانته پخپله د استوګني ځای پیدا کړي او کثره وخت دوی د اوسیدولو لپاره تر ټولو ارزان بیه ځای کي پاتی کیږي چي د ښار په څنډو یعني په غیر رسمي ساحو کي دي.

په پای کي، د غیر رسمي استوګنځایونو پراخیدل د راستنیدونکو کډوالو او کوربه ټولنو ترمنځ تاو تریخوالي رامینځته کوي، دوی په ټولنیز لحاظ په تدریجي توګه سره جلا کوي، چي د حکومتونو لپاره به د بیا یو ځای کېدني دوامداره پروګرام رامینځته کول ستونزمن کړي.

# References


1. Ali, A. (2013). Returnees’ Reintegration and Contributions in a Post Conflict Society: A Case Study Of Afghan Returnees From Iran [online] Available at: http://r-cube.ritsumei.ac.jp/bitstream/10367/5873/1/51211602.pdf. [Accessed 14 January 2017].
2. Turton, D. and Marsden, P. (2002). Taking Refugees for a Ride? The politics of refugee return to Afghanistan. [online] Available at: https://areu.org.af/archives/publication/208. [Accessed 23 November 2017].
3. Humanitarian Response. (2017). Internal Displacement due to Conflict. [online] Available at: https://www. humanitarianresponse.info/en/operations/afghanistan/idps [Accessed 10 Feb. 2018].
4. International Organization for Migration. (2017). Baseline -assessment, first round Summary.
5. Kandiwal, W.M. (2016). Beyond kinship and tribe: New forms of solidarity and interest representation in Nangarhar province, Afghanistan [online] Academia.edu. Available at: https://www.academia.edu/30556197/Beyond_kinship_and_tribe_New_forms_of_solidarity_and_interest_representation_in_Nangarhar_province_Afghanistan [Accessed 20 Feb. 2018].
6. MacDonald, I. (2010). Afghanistan’s reintegration challenges: land and housing [online] Available at: https://www.files.ethz.ch/isn/139196/2%20may.pdf. [Accessed 30 December 2017].
7. MacDonald, I. (2011). Landlessness and Insecurity: Obstacles to Reintegration in Afghanistan [online] Available at: http://www.globalprotectioncluster.org/_assets/files/aors/housing_land_property/Landlessness_Insecurity_Obstacles_Reintegration_Afghanistan_2011_EN.pdf. [Accessed 22 December 2017].
8. Majidi, N. (2011). Returnee reintegration - What are the standards? MoRR Reintegration Workshop [online] Available at: http://morr.gov.af/Content/Media/Documents/Returneereintegration_Whatarethestandards112201211207414553325325.pdf. [Accessed 29 December 2017].
9. Majidi, N. (2013). Home sweet home! Repatriation, reintegration and land allocation in Afghanistan [online] Available at: http://journals.openedition.org/remmm/8098 [Accessed 15.01.2018].
10. Nassim, M. (2011). Urban Returnees and Internally Displace Persons in Afghanistan, Middle East Institute [online] Available at: http://samuelhall.org/wp-content/uploads/2011/01/Urban-Returnees-and- Internally-Displaced-Persons.pdf. [Accessed 23 November 2017].
11. Monsutti, A. (2006). Transnational Networks: Recognizing a Regional Reality. Kabul Afghanistan Research and Evaluation Unit [online] Available at: https://areu.org.af/wp-content/uploads/2015/12/627E-Looking-Beyond-Repatration-SP-web.pdf [Accessed 25 September 2017].
12. Muzhary, F. (2017). How Return of Half a Million Refugees is Impacting One Afghan Province.

Refugees Deeply. [online] Available at: https://www.newsdeeply.com/refugees/articles/2017/05/23/how-return-of-half-a-million-refugees-is-impacting-one-afghan-province [Accessed 15 December 2017].

13. National Policy on Internally Displaced Persons. (2013). The Government of the Islamic Republic of Afghanistan, Ministry of Refugees and Repatriation [online] Available at: http://morr.gov.af/Content/files/ National%20IDP%20Policy%20-%20FINAL%20-%20English(1).pdf [Accessed 15 December 2017].
14. Pajhwok. (2016). Humanitarian crises after refugee influx in Nangarhar. [online] Available at: http://www.pajhwok.com/en/2016/12/17/humanitarian-crises-after-refugee-influx-nangarhar [Accessed 17 November. 2017].
15. Reach Initiative. (2017). Nangarhar Informal Settlements Profiling [online] Available at: http://www. reachresourcecentre.info/system/files/resource-documents/reach_afg_factsheet_nangarhar_informal_ settlement_booklet_january2017_1.pdf. [Accessed 18 November 2017].
16. Urban Refugees. (2018). Handbook for Repatriation and Reintegration Activities. [online] UNHCR. Available at: http://www.unhcr.org/411786694 [Accessed 17 Feb. 2018].
17. ReliefWeb. (2018). Assisted Voluntary Repatriation to Afghanistan - Return by Province of Destination

    Ethnicity - Mar. 02 - July 08. [online] Available at: https://reliefweb.int/map/afghanistan/assisted- voluntary-repatriation-afghanistan-return-province-destination-ethnicity-2 [Accessed 13 Jan. 2018].
18. Revised version of the Presidential Decree No.104 (19 September 2017).
19. Schmeidl, S. (2014). Sources of Tension in Afghanistan and Pakistan: A Regional Perspective [online] Available at: https://www.cidob.org/en/publications/publication_series/monographs/monographs/ telling_the_story_sources_of_tension_in_afghanistan_pakistan_a_regional_perspective_2011_ 2016[Accessed 30 October 2017].
20. Giovacchini, T. (2013). Jalalabad City Profile. Land Reform in Afghanistan -LARA, USAID funded project. Collaboration for Development. [online] Available at: https://collaboration.worldbank.org/docs/DOC- 10691. [Accessed 15 November 2017].
21. UNHCR. (2008). Assisted Voluntary Repatriation to Afghanistan -Return by Province of Destination Ethnicity - Mar. 02- June 08 [online] Available at: https://reliefweb.int/map/afghanistan/assisted- voluntary-repatriation-afghanistan-return-province-destination-ethnicity-1 [Accessed 12 December 2017].
22. Wily, L.A. (2013). Land, People, and the State in Afghanistan: 2002 – 2012 | Afghanistan Research and Evaluation Unit. [online] Available at: https://areu.org.af/archives/publication/1303 [Accessed 20 Feb. 2018].

# ضمیمه الف: دهېواد شالید: افغانستان د یوې کرځنده ټولنې په توګه

اوس مهال، د افغانستان د نفوس شاوخوا څلورمه برخه بېځایه شوي دي. دوی یا له نړیوالو سرحدونو اوښتي او یا هم په کور دننه بېځایه شوي. د کوچیتوب د ریښې په لرلو سره، افغانان په تاریخي لحاظ په لوړه کچه یو ګرځنده ټولنه وه او موسمي کوچېدنه له پېړیو د روزمره ژوند د اړتیاوو برابرولو یوه مهمه برخه وه (منسوتی۲۰۰۶). د۱۹۷۰مې لسیزې په ورستیو کې، هغه مهال چې په هېواد کې شخړې سر راپورته کړ د کډوالۍ کچه لوړه شوه. تر هغې را پدېخوا کډوالي د ځان ژغورلو او ساتلو یو فکټور شو خو نورې انګیزې هم لرلي د بیلګې په ډول د یو ښه ژوند او یا معیشیت لټون.

له دویمې نړیوالې جګړې وروسته، تر ټولو د لوړ شمیر کډوال افغانان وو او دوی دغه ځورونکی ریکارډ په سوریه کې د جګړې تر شروع کیدلو او له سوریې د کډوالو د سیلاب تر وتلو پورې ساتلی و. نن ورځ، د ګاونډی هېوادونو پاکستان او ایران په ګډون، افغان بدنه (ډایاسپورا) نږدې په ۷۵ هېوادونو کې حضور لري (شمایډل۲۰۱۴). یاد دوه ګاونډي هېوادونه د افغان کډوالو د نفوس اکثریت برخي ، چې څلورو میلونو ته رسیږي، کوربه دي. په زرګونو افغانان په اروپایی او نورو هېوادونو کې د استوګنځای د پیدا کولو په لټه کې دي.

داخلي بی ځایه کیدنه د افغان شخړې یو دوامدراه بڼه ده او دا مخ په زیاتیدو ده. له ۲۰۱۷ جنورې تر ۲۰۱۸ جنورې په افغانستان کې ۴۵۲۵۲۹ خلک داخلي بې ځایه شوي دي. په عمومی توګه د داخلي بی ځایه شوو شمیر تر یونیم میلیون پورې رسیږي (د ملګرو ملتو د بشری مرستو د همغږی کولو اداره ۲۰۱۷)

همدارنګه له ۲۰۰۱ وروسته، تر شپږ میلونه ډیر افغان کډوال بېرتهبېرته هېوادهېواد ته راستانه شوي په ځانګړي توګه له ایران او پاکستان څخه چې له دې بې شاوخوا پنځه میلیونه سره UNHCR مرسته کړې او له هغه مهاله چې یاده اداره رامنځه شوې ، دا بې تر ټولو د لوی شمیر راستنیدلو پروژه وه چې دوی بې اسانچاري په غاړه لرله. په هرصورت، د راستنو شوو کډوالو د شمېر کره والی لا هم تر سوال لاندې دی ځکه چې کډوال هېوادهېواد ته را ستنیدل خو ډیر بې د مرستو د تر لاسه کولو وروسته بېرته ګاونډي هېوادونو ته تلل چې دا د کډوالو د ننه او د باندې تګ د بیلابیلو مرستو د د ورکړې له امله و. (ټورټون او مارسډین ۲۰۰۲).

زه پخپله هم د دې تګ راتګ شاهد یم او ځینې خپلوان مې پیژنم چې د ۲۰۰۲ او ۲۰۰۴ په منځ کې څو ځله هېواد ته راستانه شول چې مرستی تر لاسه کړي بېرته بیا پاکستان ته ولاړل. په هر حال دا یواځې مرستې نه وی چې خلک بې افغانستان ته راتګ او بېرته له هېواده وتلو ته تشویق کړي وو. د راستنو شوو کډوالو لپاره دا ګرانه وه چې تصیمیم بې نیولی وایی چې په هېواد کې پاتې شي که بېرته پاکستان ته ولاړ شي ځکه چې دوی په دې باور نه شو کولی چې افغانستان به د امنیت له پلوه او د کارې موقع موندلو کې تر پاکستان بهتره ځای وي

دا ګرانه ده چې د راستنو شوو کډوالو د توکم په اړه تفصیلی او تازه معلومات پیدا شي ولې په هر صورت د هغو راستنو شوو کډوالو معلومات چې د UNHCR له اداري بې مرسته تر لاسه کړې ده ، ښایی چې له ۲۰۰۲ تر ۲۰۰۸ د راستنو شوو کډوالو تر نیمایی ډېر پښتانه توکمه وو. په حقیقت کې همدغه د لوی شمیر کډوالو د راستندنی موده وه.

| توکم | نور | ترکمن | ازبک | هزاره | تاجک | پښتون | نامعلوم |
|---|---|---|---|---|---|---|---|
| فیصدي | 4% | 2% | 4% | 8% | 25% | 57% | 16246 |

(UNHCR, ۲۰۰۸)

# ضمیمه ب: د ښار پس منظر: ننګرهار ولایت ته بېرته راستانه شوي

ننګرهار ولایت د افغانستان په ختیځ کي موقعت لري چي د هېواد د پنځو ولایتونو: کنړ، لغمان، پکتیا، لوګر او کابل سر بېره د خیبر پښتونخوا سره ګډه پوله لري.

مرکزي ښار يې جلال اباد دی چي د ټول ختیځ زون لپاره د ښاري مرکز حیثیت لري. د ننګرهار اکثریت اوسیدونکي پښتانه دي چي د درې لویو قبیلو لکه خوږیاني، شینواري او مومند پورې تړاو لري. همدارنګه غیر پښتانه هم لري لکه پشه يي، ګوجر . عرب او نور.

د افغانستان په ۳۴ ولایتونو کي ننګرهار ته تر ټولو ډېر شمیر کډوال را ستانه شوي دي : له پاکستان څخه په ۲۰۱۶ کال کي د ۸۰٪ په شاوخوا کي د راستنو شوو کډوالو يې ننګرهار ته راغلل (پژواک ۲۰۱۶). راستانه شوي کډوال د ننګرهار د نني نفوس ۲۷٪ جوړوي (ای او ایم ۲۰۱۷) او هغه راستانه شوي کډوال چي اره ننګرهاري نه دي خو دې ولایت ته راستانه شوي دي، یاد ولایت ته د راستنو شوو کډوالو دریمه برخه جوړ وي. (نیوزډیپلی ۲۰۱۷).

دUNHCR شمیرو له مخي ، 16712 تنه چي د 2017 کال په اوږدو کي د افغانستان ختیځي سیمي ته راستانه شوي، 78٪ يي ننګرهار ته راغلی دي.

د مهاجرت نړیوال سازمان(IOM) هم راپور ورکړي چي 474،000 بې اسناده افغانان د پاکستان او ایران څخه د 2017 کال د جنوري او نومبر ترمنځ بېرته راستانه شوي. په هر صورت، د ټول ولایت، په ځانګړي ډول د جلال اباد ښار، د نفوس د قیق شمیر نشته دی. بېلابلي اداري، بېلابېلي شمېرې لري او حتی حکومتي ریاستونه په خپلو کي د نفوسو د شمیر په اړه توافق نه لري (جلال اباد ښار پروفایل ۲۰۱۳).

لکه څنګه چي د ننګرهار د نفوس اکثریت پښتانه دي، نو دا باید حیرانوونکي نه وي چي ډېری راستانه شوي کډوال هم پښتانه دي، په هرصورت، د UNHCR معلومات ښايي چي ننګرهار د نورو توکمو لکه تاجک، اوزبک، هزاره او ترکمن چي تر کډوالی پخوا د دې ولایت اوسیدونکي نه و احتمالي میشت ځای یاد شوی دی. د UNHCR دغه معلومات د دې بیلابیلو توکمو په اړه ډېر تفصیل نه لري له همدې امله دا ګرانه ده چي پوهه شو چي ولې غیر ننګرهاریو راستنو شوو کډوالو په ننګرهار کې میشتدنه خوښه کړې؛ نه پخپل اصلی ولایت کي چي دوی ترې کډوال شوي وو.

ډیری راستانه شوي کډوالو د بیلابیلو دلایلو لکه د خراب امنیتی وضیعت، په اطرافی سیمو کي د کاري موقع د کموالی او ځمکي ته د نه لاس رسي له امله بېرته خپل اصلی ټاټوبي ته نه ستنیږي (مجیدی ۲۰۱۱). پرځای يي بېرته راستنیدونکي ښاري مرکزونو ته ځي، ډیری په هغو غیر رسمي استوګنځایونه کي میشت کیږي چي په ښاروالی کي په قانوني توګه ثبت نه دي، مګر په حکومت پورې اړه لري. په ننګرهار کې ۲۶ دغه ډول غیر رسمي استوګنځایونه دي چي ۱۵ يې د جالال اباد ښار په شاوخوا کي موقعیت لري او پاتي نور ګاونډیو ولسوالیو لکه بېسود او سره رود کي (ریچ، ۲۰۱۷).

## راستانه شوي کډوال چي ځمکه نه لری

یو تخمین (چي سرچینه يې واضح نه ده) ښیي چي په پاکستان کي تر 90٪ ډېر افغان کډوال اوس هم دعوه کوي چي دوی په افغانستان کي ځمکه نه لري (مکډونالډ ۲۰۱۰) .زما دغه څیرنه ښیي چي نه افغان حکومت او نه هم غیردولتي موسسي داسي کوم

سیستم لري چې د راستنو شویو کډوالو د بې ځمکې توب ادعاوې دې ثبت کړي. په دې توګه، هیڅوک د بې ځمکې راستنوو شوو کډوالو دقیقه شمیره نه لري. د معلوماتو دا تشه په دې مانا ده چې پالیسي جوړنکي یوازې د انګېرنو له مخې پرېکړې کوي. زما مرکې څرګندوي چې هغه راستانه شوي کډوال چې د ځمکې د نه لرلو ادعا لري، په حقیقت کې، ټول یې بې ځمکې نه دي. ځینې خلک اټکل کوي چې د راستنوشوو کډوالو نږدې نیمایي ځمکه نه لري.

په هرصورت، دا ارقام په ساده ډول څرګندوي چې د راستنیدونکو په اړه د پوهاوي په کچه کې څومره لویه تشه موجوده ده. د ننګرهار ولایت د کډوالو او راستنیدونکو چارو په ریاست کې د راستانه شوو کډوالو یو لوی شمیر غوښتنلیکونه له کلونو راهسې په ځنډیدلی حالت کې دي او دا شمیره "د ځمکې د تخصیص او توزیع سکیم" له جوړېدو راهیسې همداسې پسې زیاتیږي. د راستنو شوو کډوالو ډیری یې دعوه کوي چې دوی یا تر کډوالۍ وړاندې بې ځمکې و او یا د دوی د کورنۍ د غړو شمیر ډیر زیات شوی نو ځکه د دوی پلرنۍ ځمکه د دوی لپاره نوره کافي نه ده.

په ننګرهار والایت کې د کډوالو او راستیدونکو چارو ریاست د غوښتنلیکونو شمیره لري، خو په اړه یې نور معلومات ډیر لږ دي. غوښتنلیکونه پروسیس شوي او تصویب شوي، مګر بیا کتنه یې دا نه شي تضمینولي چې د غوښتنلیک پروسیجر له کوم جعل یا درغلي پرته تر سره شوی دی. د ننګرهار ولایت د کډوالو چارو په ریاست کې ، د غوښتنلیکونو شمېره له ۱۳۶۰۰۰ تر ۱۶۰ زرو پورې رسیږي په هرصورت د غوښتنلیکونو په اړه نور ضروري معلومات نشته دي. د بیلګې په ډول:

- الف: داسې خلک شته چې تعرفه (د ځمکې لومړی سند چې د حکومت لخوا صادر شوی او د بشپړ ملکیت لپاره یې نور اسناد تعقیبوي) یې هم تر لاسه کړي مګر تر اوسه ورته نومره نه ده ورکړل شوې او دوی له کلونو انتظار کوي.
- نورې کټګورۍ د غوښتنلیکونو: د ځینو غوښتنلیکونو پروسیس ځنډیدلی، د ریس امضا ته انتظار وباسي او یا د خپل بی زمکیتوب د ثابیتولو لپاره انتظار کوي.
- ځیني معلومات داسې تخمین کوي چې په لسګونو زره خلک خپلو غوښتنلکونو پسې نور نه ګرځي ځکه چې ریاست ته تر ډیر ځله ورتللو سره، سره د دوی په کار کې هیڅ پرمختګ نه کیده. دوی د سیسټم د سمیدلو او د لا شفافیت انتظار کوي وړاندې تر دې چې دوی بیا ورته مراجعه وکړي. د دې معنی دا ده چې په یو لوی شمیر کې غیر ثبت شوي غوښتنلیکونه په ځنډیدلي حالت کې دي.

په واضح توګه، د بې ځمکې کډوالو په اړه د پوهې تشه باید د دې لپاره ډکه شي چې یوه ستراتیژي رامنځته کړي او هغه د ادغام په وړاندې د بې ځمکې کډوالو ننګوني حل کړی.

# ضمیمه ج: د مرکه کوونکو لیسټ

| سیکتور | اداره | شمیر | |
|---|---|---|---|
| حکومت | د کډوالوچارو ریاست | ۲ | |
| | د تجارت او صناعت ریاست | ۱ | |
| | اراضي اداره | ۱ | |
| | د ولایت مشاور | ۱ | |
| | ولایتي شورا | ۱ | |
| غیر دولتي اداري | د کډوالی نړیواله اداره | ۱ | |
| | NRC | ۴ | |
| | د بشري حقوقو خپلواک کمیسون | ۴ | |
| | UN-Habitat | ۱ | |
| | مدني ټولني / ژورنالیستان | ۳ | |
| راستانه شوي کډوال | | ۱۲ | |
| جندر | | ۲۳=نارینه | ۸ =ښځینه |
| عمر | | ۵۰ ــ ۲۲ | |

# د RIT پروژې په اړه

په ښارونو کې د کډوالو (RIT) پروژه په ښاري ساحو کې د کډوالو د تجربو په اړه پوهاوی زیاتوي.

زموږ موخه دا ده چې د سمیزو خلکو او کډوالو د نظریو او پوهې له مخې د کډوالو د اغام په اړه پوه شو او ورته وده ورکړو تر څو د هغو ښارونو په اړه ژور پوهاوی رامنځته کړو چې دوی پکې اوسیږي. دا پروژه د اغلې کیرن جاکبسن د فکر زیږنده ده او همغه یې مشرې کوي. دا پروژه په Tufts University کې د Feinstein International Center لخوا مخکې وړل کیږي او د Henry J. Leir فاونډیشن لخوا تمویل شوې ده.

# زموږ موخې دوه دي

لومړی، موږ د خپلو موضوعي مطالعو او ریپورټونو له مخې د اطلاعاتو یوه نړیواله زیرمه جوړو چې موږ سره د کډوالو د ادغام د پروسې په پیژندلو او تحلیل کې مرسته وکړي.

دا قضیې (موضوعي ریپورټونه) د هغو ډېرو او بېلابېلو فکټورونو په باره کې چې ادغام ممکن کوي او یا یې په وړاندې خنډ وي د سمیزو خلکو د پوهې / بصیرت د یوې لړۍ برابرولو سر بېره هغه لارې را ښایی چې کډوال او د کوربه ټولنې خلک په ښاري ساحو کې یو له بل سره مطابقت او مبارزه کوي.

موږ خپل موضوعي ریپورټونه د بیا میشتیدونکو هېوادونو، ترانزیتي هېوادونو، او د لومړنی استوګنې هېوادونو څخه کاږو . زموږ اوږمهاله موخه دا ده چې ادغام په اړه له ساحې راپورته شوې یوه تیوري جوړه کړو.

دوهم، د RIT پروژه غواړي چې د ټولنې مشرانو، مرستندویه ادارو، او محلي حکومتونو سره د پالیسۍ او عملي کارونو په برابرولو کې مرسته وکړي.

د دې لپاره چې هغوی پخپله ټولنه کې اړتیا وي را په ګوته کړي، د ادغام په اړه ډیالوګ تشویق کړي ، ښې کړنې او زده شوي درسونه شریک شي ، موږ پالیسي جوړونکي، او د ټولنې مشران د ښار د کتلو، ورکشاپونو، کنفرانسونو او په څیړنو کې د ګډون له لارې راګډوو.

# ولې اوس

متحده ایاالت - د کډوالو د نورو ګڼو کوربه هېوادونو په منځ کې - د سفر د بندیزونو او د کډوالۍ په اړه د دوی د پروګرام دځینو برخو ځنډول د کډوالۍ په تګلارو کې د یو تغیر ښکارندوی دي.

د متحده ایاالتو بېلا بېل ښارونه په مختلفو لارو ځواب ورکوي: ځینې یې د خپل ځان د "خوندي ښارونو" د اعلان کولو له لیارې په ملي پالیسیو کې د بدلونونو په وړاندې مقاومت کوي، پداسې حال کې چې نور د سفر بندیزونو او یې برخې کولو پالیسیو ملاتړ کوي .

د ټولنیزو او سیاسي بدلونونو په دې موده کې، موږ هڅه کوو چې خپله پوهه د ادغام او د هغو لارو په اړه چې کډوال او کوربه ټولنې یې له مخې له یو بل سره متقابل عمل کوي زیاته کړو.

زموږ د RIT پروژه د نړۍ په ګوټ ګوټ کې، د ادغام د تجربو په اړه، د کوربه ټولنو او کډوالو غږ پورته کوي او د هغوی د غږ په بنیاد مخکې ځي.

# د RIT په اړه نور

زموږ ویب پاڼه د نړۍ له بیلا بیلو ښارونو او ښاري ساحو ډېرې مطالعې او ریپورټونه لري او موږ په منظم ډول نوي ریپورټونه خپره وو.
**www.refugeesintowns.org**

د لیکوال په اړه

د دې رېپورټ لیکوال د ننګرهار ولایت دې چې د افغانستان په ختیځ کې موقعیت لري. هغه خپل ماسټري د بشري مرستو په منجمنټ کې د ژنیو- سویس څخه تر لاسه کړې او لیسانس یې په سیاسي علومو کې په افغانستان کې کړی.

هغه له تېرې څه باندې یوې لسیزې را پدیخوا له ملي او نړیوالو سازمانونو سره، د ژورنالیست او څیړونکي په توګه کار کوي.

اوس مهال، هغه د کډوالی، راستنو شوو ، داخلي بې ځایه شوو، بیا میشتدنې، انسانی قاچاق او سمییزې حکومتولی اړوند موضوعاتو باندې د یو خپلواک مشاور څیړونکی په توګه کار کوي.

د هغه ځینې خپرونې (مقالې، پالیسي یادښتونه) د افغانستان د څیړنې او ارزونې د ادارې (AREU) ، Crossroads Asia ، د بن جرمني پوهنتون، ، د برطانیې د Oversease Development Institute – ODI, او د برطانیې د اکسفورډ پوهنتون د اجباري مهاجرت ژورنال په ویب پاڼې کې آنلاین شتون لري.

w.kandiwal@gmail.com: برېښنا لیک

یادونه: د رېپورټ دا پښتو بڼه نذیر احمد نذیر کتلي او ایډیټ کړې ده.

په 'ښارونو کې کډوال' د Feinstein International Center پروژه ده.

د پروژې په اړه د لازیاتو معلوماتو لپاره ویب سایټ ته ورشئ. هلته نور رېپورټونه هم شته دی. پته یې ده **https://www.refugeesintowns.org/**

د Feinstein International Center ، په Tufts University کې، د تحقیق او ښوونې مرکز دی چې د فریډمن د تغذیې ،ساینس او پالیسی ښوونځي کې موقعت لري.

زموږ دنده دا ده چې د شواهدو او اخستل شوو درسوونو څخه په عملیاتي ځواب او پالیسو کې کار واخلو د ې لپاره چې د هغو خلکو ژوند، معیشت، او وقار پیاوړي کړو چې زیانمن شوی او له بشري ناورین سره مخ دی.

Twitter: @FeinsteinIntCen

**fic.tufts.edu**